د افغانستان اسلامي جمهوریت
جمهوری اسلامی افغانستان

د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اعلامیه

**کابل ښار: ۱۳۸۹/۵/۱۰**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د شکایتونو تر څیړنو وروسته ومونده ،چې د ولسي جرګې ۶۸ تنو نوماندانود ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټاکنیزو مبارزو د ۱۲ مادې د لومړي فقرې د ۳ او ۴ بند د دستورالعمل پر خلاف په منع شویو ځایونو کې تبلیغاتي پاڼې ،عکسونه او شعارونه لګولي دي، چې د ټاکنو د قانون د۶۳ مادې د ۱۹ او ۲۰ فقرې پربنسټ دا کړنې ټاکنیزې سرغړونې شمیرل کیږي . نو ځکه هغه نوماندان چې دا ډول سر غړونې یې تر سره کړي د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې په لاندینو مجازاتو محکوم شوي دي :

۱ – هر نوماند مکلف دی چې ۸۰۰۰ افغانۍ نقدي جریمه ورکړي .

۲ – هر نوماند مکلف دی چې خپلې ټولې تبلیغاتي پاڼې او عکسونه له منع شویو ځایونو راټولې او خپل ټول شعارونه پاک کړي .

۳ – نوماندان باید د اعلامیې له خپریدو وروسته تر لسو ورځو پورې خپل مکلفیت ترسره کړي اوکه نه تردې درنه سزا به ورکړل شي .

د یادونې وړ ده ،چې پردغو نوماندانو تردې مجازاتو برسیره ، د یو شمیرو نورو تورنو نوماندانو دوسیې چې تبلیغاتي پاڼې او عکسونه یې په منع شویو ځایونو کې سریښ کړي د ټاکنیزو شکایتونو دکمیسیون تر څیړونو لاندې دي ،

اود ځیړونو د بهیر له پای ته رسیدو سره به یې پایلې خلکو ته اعلان شي اود احتمالي شکایتونو د څیړونو لړۍ د ټاکنو د ترسره کیدو تر ورځې دوام لري .

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون**